وسلواله ناول




Ketabton.com

لیکوال ---- ادریس ساحل ساپی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بسم الله الرحمن الرحیم

ليکوال ---- ادريس ساحل ساپی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# هغه سرو او انجونو ته ډالی چې د خپل هیواد د بقا لپاره یی ځانونه د مرګ خولو ته غورځولی وی

""""""""""...څوک چی د خپل ځان په دفاع کی څوک چی د خپل مال په دفاع کی او څوک چی د خپل عزت په دفاع کی مړ شو شهید دی...""""""""" حدیث شریف

ليکوال ---- ادریس ساحل ساپی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پېل

ډېر شو يوه انجلۍ چې مخ يې په نقاب پوښلی و او پوڅې دريشي يې اغوستی وه د کلي د خاورو په خړه کوڅه کې ورغښته تر شا يې لس متره لرې درې کسان چې سپينی جامې يې اغوستې وې اومنډې يې وهلې ودريدل !

يو وويل:

- ولګيده ؟

دوهم وويل:

-داسې ښکاري لکه چې لګيدلی وی !

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړی وویل:

-قومندان صیب پام خو دې دی نښه مې ښه ده ؟

دوهم وویل:

-مجبور یی چی ویولی دا ستا مسلک دی

قومندان وویل

- دا د الله رحم و چی یوه مرتده مو بله هم مرداره کړه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



انجلی خپلی ګوتی وښوځولی هڅه یی وکړه پاڅیږ.ی په خیټه کې یی شدید درد احساس کړو تیره شوی صحنه یی لکه فلم د سترګو تیره شوه د وسلوالو خبری یی تر غوږ.و شوی خپل نازک لاس یی خیټی ته نږ.دی کړ لاس یی تود شو وروګتل یی سرو وینو باندی ککړ و بیا یی لاس توفانچی ته وروړاندی کړ په سخته یی لټ کش کړ په بل مخ واوښته په منځ کس یی نښه برابره کړ ډز شو د سړی د تندی سرو وینو داره وکړه د ډز سره انجلی ورغښته هغه ځای چی دا پری پرته وه خړو دوړو ونیو بیا یی لټ کش کړ بل ډز د ښی لوری کس په پښه ولګید دریم کس پروت وکړ انجلی په سختی پاڅیده او په کوڅه کی یی منډه کړه سړی راپاڅید قومندان ته یی وګتل له سره یی وینی روانی وی دویم کس ته یی وګتل په پښه لګیدلی و دواړو ځګیروی کول

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولاړ کس وویل :

-حسنه ته خپله پښه په خپل رومال وتړه زه به په خپل رومال د قومندان صیب سر وتړم حسن سر د خا په بڼه وخوځو او وویل:

- ابو الیاسه قومندان صیب بچ دی ؟

ابو الیاس وویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library



-حسنه لګيدلی په پښه يی او کار دې
ماغزه نه کوي زه خو څه ډاکټر نه يم
حسن غلی شو ابو الياس مخابره
راواخيسته خبر يی ورکړ چی انجلی
وتښتيده قومندان صيب او حسن زخميان
دی قومندان صيب حالات خراب دی
زر مرسته راوليږي د هغه لوری ډاډ
ورکول شو انجلی په سختی د خپل ژوند
د ژغورلو لپاره کلي تنګو کوڅو کی
پنځه دقيقی منډه ووهله او ځان يی د
جومات خواته ورسو جومات د کلی په
کوز سر کی جوړ و چی خواته يی د
اوبو ډکه وياله بهيده د ويالی د پاسه يو
متر په اندازه پل و اخوا تری بيا تر
سرکه د جوارو شنه پټی ولاړ و د
جومات په دروازه کی دوه ځوانان
ناست و يو يی اولس کلن خو بل تر دی
مشر ښکاريده په غالب نظر نولس کلن
به و انجلی منډه وهل بس کړل خو مزل
يی تيز کړ په ټپ ځای کی يی شديد درد

(c) ketabton.com: The Digital Library



احساسو مرال یی لوړ کړ په بیړه د
جومات له خوا تیره شوه په پل واخوته
او د جوارو په پټو کی په هغه پولو چی
تر پاخه سرکه تللی وی روانه شوه
اولس کلن ځوان دویم ته وویل

- رضوانه دا انجلی یی لکه چی ویشتلی

رضوان وویل :

-هو جلاله هغه لږ مخکې چی ډزی
وشوی هغه به یی په دی کړی وی کنه

جلال وویل:

- رضوانه راځه مرسته به ورسره
وکړو!

رضوان وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ځان ته مشکل مه جوړوه که مرسته
ورسره وکړو او ځوک خبر شی بیګاه
ته به مو د کور دروازه وټکیږی په
زور به مو د کور څخه وباسی او
دومره به مو ووهی چی بیا به د پوځی
نوم هم په خوله نه اخلو انجلی د پټو په
پولو د څه مزل وروسته پاخه سرک ته
ورسیده څو موټری تیری شوی انجلی د
ودریدو اشاره ورکوله خو هیڅ موټر نه
ودریده اخر چا ولی خپل ژوند په خطر
کی اچوو یوه انجلی چی مخ یی پټ دی
پوځی دریشی یی اغوستی زخمی ده
هیڅ محرم هم نه لری نو دا خو خپله
ځان ته فساد جوړول و انجلی فکر په
مخه کړه له ځان سره یی سوچ وکړ که
دلته ودریږم خامخا به وسلوال راشی
غوره لاره دا ده چی تر یو ځایه پیاده
لاړه شم انجلی په ورو ورو قدمونه
واخیستل د تلو طاقت یی نه درلوده شل
متره لار یی په سختی ووهله نوره په

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل ځای کیناسته سر پری وځرخید د سړک پر غاړه پریوته بانه یی سره وروستل د سترګو په منځ کی تور ګاټی پېټ شو او بی هوشه شوه هلته لس وسلوالو ځانونه راورسول د راغلو کسانو قومندان وویل:

- انجلی څه شوه ؟

ابو الیاس وویل :

-هغه مو وویشته مونږ فکر کاوه چی مړه ده خو هغی پر مونږ ډزی وکړی او وتښتیده

قومندان وویل:

-کوم لوری ته لاړه ؟

ابو الیاسه د جومات لوری ته ګوته ونیوله وویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library



-همداسی لاړه هغه غواړی چی ځان پاخه سرک ته ورسوی قومندان هغه ځای ته ورغلی چیرته چی انجلی لګیدلی وه وروګتل بیا یی غږ کړ ممتازه سبحانه او ضیاء دینه انجلی لګیدلی په منډه لاړ شی تعقیب یی کړی ډیره به نه یی تللی دری ځوانانو په کوڅه کی منډی کړی

قومندان وویل:

- هلی نو قومندان صیب راواخلی چی کمپ ته یی بوځو دوه ځوانانو قومندان په راوړی کټ کی واچوو او حسن یی بل کټ کی واچوو کټونه یی جګ کړل او روان شول

*********

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو کس غږ کړ زخمی یی راوړ د روغتون په دالان کی سراچه موټر ودرید دوو کسانو تذکره وروړه ډاکټر ځان تر ټپی وروړسوو موټروان ته یی وویل :

څه وخت لګیدلي؟

موټروان وویل:

- وختی لګیدلی ډیره وینه یی ځایی کړی

ډاکټر وویل:

- په کوم ځای لګیدلي؟

موټروان وویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library



-خېټه کې

ډاکټر وویل :

-تاسو یی خپلوان یاست؟

موټروان وویل :

-نا زه یی نه پیژنم چا ویشتلی وه په سرک پرته وه ما هم د انسانی همدردی له مخی تر روغتونه راورسوله

ډاکټر وویل :

سمه ده یعنی دا ټپی انجلی سره تاسو هیڅ تړاو نلری؟

موټروان وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-هو ډاکټر صیب

ډاکټر وویل:

- چا ویشتلی ؟

موټروان وویل :

-نه پوهیږم بس چی ما ولیدله بی هوشه وه ډیره وینه تری تللی وه

ډاکټر وویل :

-کورنۍ یی پیژنی؟

موټروان وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-نه ډاکټر صیب خو یو دستکول ورسره و کیدای شی هغه کې په اړه بشپړ معلومات وی

ډاکټر ښه وویل او عملیات خونی ته ننوت پنځلس دقیقی وروسته روغتون ته د پولیسو رنجر ننوت قومندان او یو عسکر تری راښکته شول او موټروان همغسی په کی ناست و قومندان او عسکر په پوښتنه ځان تر عملیات خونی وړورسوو موټروان لا انتظار کاوه

عسکر وویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library



-دلته یی یوه زخمی انجلی راوړی وه؟

موټروان ووېل:

- هو هغه ما راوړه

عسکر بله پوښتنه کوله چی نرس راووت او د وینې بانک په لور لاړ موټروان د عسکرو پوښتنو ته ځواب ورکوو چی نرس بیرته راغلی

ووېل:

- وینی ته اړتیا ده خو بانک کی نشته !

(c) ketabton.com: The Digital Library



موټروان وویل:

- کوم ګروپ وینه ؟

نرس وویل:

- منفی وو وینه

عسکر وویل:

- زما د وینی ګروپ منفی وو
دی زه به وینه ورکړم

قومندان وویل:

- ته ډاډه یی ؟

عسکر وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هو هغه هم زمونږ په څیر یو پوځې ده بس زه وینه ورکوم

نرس وویل :

-له ما سره راشی عسکر یی لابرتوار ته بوتلو څه وخت وروسته نرس وینه عملیات خونی ته وروړه ځو دقیقی وروسته عسکر هم راغلی

قومندان وویل :

-حالات دی څنګه دی؟

عسکر وویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library



-اوس بنه یم د وینی ورکولو سره عادت یم مشکل راته نه پیښیږی

بیا یی وویل :

-څنګه شو موټروان؟

قومندان وویل :

-هغه ملامت ندی یواځی مرسته کړی د انجلی په اړه په هیڅ هم نه پوهیږی

عسکر وویل:

- د خو به نه وی ویشتلی؟

قومندان وویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library



-نا که د ویشتلی وی بیا یی روغتون ته نه راوړه

عسکر ووېل :

-کوم سند خو به د انجلی سره وی د هغی به یی پیدا کړو؟

قومندان ووېل:

- موټروان وایی چی یو دستکول یی درلود کیدای شی په هغی کی کوم سند وی!

عسکر ووېل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- خبر دی ورکړی چی د پیښی ځای ته کسان د ځیړنی لپاره ولیږي؟

قومندان وویل :

-پیښه د مخالفینو په سیمه کی پیښه شوی نو موږ نشو کولای چی هلته لاړ شو بل دا یوه پوځی ده او پوځی دریشی هم لری کیدای شی د مخافینو لخوا ویشتل شوی وی

عسکر وویل:

- زما خو بیخی دی خبری ته سوچ نه و

(c) ketabton.com: The Digital Library



قومندان وویل :

-ته یو عسکر یی باید هر څه ته دی فکر وی تر څو کامیابی حاصله کړی که نه تل به ناکامه یی

عسکر وویل :

-هو، ته صحیح وایی هره ستونزه باید د هر لوری وسنجوو او فکر پری وکړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



قومندان د تایید په بڼه سر وخوځو بیا دواړه د عملیات خونی تر څنګ پرتو چوکو ته کیناستل عملیات اوږد شو قومندان ناراسته کیدو اخر پاڅید او روغتون کی یی قدم وهل پیل کړل بیا یی جیب ته لاس کړ پیسی یی تری راواخیستی عسکر ته یی ونیولی وویل ورشه شربت راوړه نور می زړه راتنګ شو عسکر د پیسو نه اخیستو ست وکړ خو قومندان ورته لاس کی کیښودی عسکر لاړ او شربت یی راوړ قومندان او عسکر شربت په مزه مزه وڅکه

عسکر وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- قومندان صیب د موټروان ادرس دی اخیستی ؟

قومندان وویل:

- هو تری اخیستی می دی کله چی خپل ادرس راکړ بیا می روخصت کړ

عسکر وویل :

-ښه ده صرف ادرس یی وی بیا وروسته ستونزه پیدا نشی !

قومندان وویل:

- ادرس می د تذکری له مخی تری اخیستی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د عملیات خونی دروازه خلاصه شوه ټپی انجلی چی مخ یی ورته پټ کړی و بلی خونی ته یوړه قومندان او عسکر ورپاڅیدل د ډاکټر سره یی سترې مشی وکړه بیا یی وویل :

-هغه انجلی چی تاسو یی اوس عملیات ترسره کړل د زخمی کیدو په پار زه دلته راغلی یم تر څو دا خبره وخیږم !

ډاکټر وویل :

-سمه ده ویی څیړه

قومندان وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-سمه ده دا انجلی څوک ده ؟

ډاکټر وویل :

-تاسو خو له ما مخکی راورسیدی او پوښتنه له ما کوی زه څه پوهیږم دا مسولیت ستا دی چی ووایی؛ دا انجلی څوک ده ؟

قومندان وویل :

-ښښنه غواړم زما پوښتنه ناسمه وه اوس یی حالت څنګه دی ؟

ډاکټر وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- بنه ده څه موده وروسته به په هوش راشی

قومندان وویل :

-سمه ده مننه چی دومره تکلیف مو وویسته

ډاکټر وویل :

-دا زما مسولیت دی چی هر ناروغ سره تر خپل توان مرسته وکړم

قومندان وویل :

-زمونږ لومړنۍ څیړنی ثابته کړه چی انجلی سره یو دستکول و ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکټر وویل :

-هو یو دستکول ورسره و

قومندان وویل:

- هغه دستکول مونږ ته راکړی!

ډاکټر وویل :

-هغه په وینو ککړ و مونږ کثافت دانی ته وغورځوو

قومندان وویل:

- سمه ده هغه شیان چی دستکول کی پراته و مونږ ته یی راکړی!

ډاکټر وویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library



-دستکول شړ و د انجلی سره هیڅ هم نه و هغی پوځی دریشی درلوده مګر وسله هم ورسره نه وه

قومندان وویل:

- سمه ده مونږ غواړی انجلی ووینو د هغی تحقیق وکړو او هغه تالاشی کړو

ډاکټر وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- لومړی دا زمونږ د روغتون
قانون دی چی هیڅوک نشی
کولای چی د پایوازی د اجازی
پرته د یوی انجلی سره لیدنه
وکړی او که انجلی اجازه
ورکړی نو بیا سمه ده لیدلی شی
او د روغتون قوانینو نه وراخوا
بیا زه اجازه نه درکوم چی تاسو
هغه انجلی تالاشی کړی او یا
تری تحقیق وکړی ځکه دا کار د
افغانیت د اصولو خلاف عمل دی
مونږ ټول پوهیږو اسلام د
نامحرمی ښځی سره د سړی لیدل
منع کړی دی مګر د ضرورت
په مهال لیدلی شو خو دا هیڅ
ضرورت ندی کله چی په هوش

(c) ketabton.com: The Digital Library



راغله هغه وخت به ترې زه معلومات وکړم پایوازی ته به یې خبر ورکړم بیا به ټول معلومات تاسو ته درکړی

قومندان وویل :

-که انجلی تر هغی وخته رخصت کړی ؟

ډاکټر وویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library



-پنځه کاله وروسته راشه زما پر ځای د بل کس څخه د هغی انجلی په اړه معلومات وغوړه معلومات به یی درکړی دا هر څه په دوسیه کی لیکل کیږی او دوسیه دلته پرته وی او تاسو ولی دومره وختی راغلی یاست د انجلی د لګیدو مخکی مو ځانونه رارسولی ؟

قومندان وویل:

- مونږ د موټروان په هکله راغلی و تر څو تحقیق تری وکړو

ډاکټر وویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library



-سمه ده کله چی انجلی په هوش راغله مونږ به تاسو ته خبر درکړو تر څو خپل تحقیقات ترسره کړی

قومندان وویل :

-سمه ده ډاکټر صیب مونږ به ستاسو د خبر په انتظار یو

بیا یی یو کاغذ راواخیست څه شمیری یی پری ولیکلی ډاکټر ته یی ورکړ وویل :

-دا زما لمبر دی بیا له ما سره په تماس کې شه ډاکټر کاغذ واخیست سرتاسری نظر یی پری تیر کړ بیا یی وویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library



-سمه ده قومندان صیب قومندان خدای پاماني واخیسته او د روغتون څخه خپل مرکز ته روان شو ډاکټر داسی اوږد اسویلی وویست لکه یو زده کوونکی چی د ریاضی امتحان کی د ښوونکی پوښتنو ته مثبت ځوابونه ورکړی بیا خپلی خونی ته لاړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساعتونه تیر شول نرس د ټپی
انجلی خونی ته راننوت
پیجکاری یی په سیروم کی
واچوله انجلی خپلی غټی سترګی
خلاصی کړلی په سپین چټ یی
سترګی ولګیدی سر یی کوږ کړ
نرس بله پیچکاری سیروم کی
لګوله انجلی تیره صحنه سترګو
ته ودرید نرس وروګتل انجلی په
خپلو غټو سترګو نرس ته وګتل

ورو یی وویل :

-زه چیرته یم ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



نرس وروګتل د انجلی رنګ زیړ و په سر یی تور ټکری پروت و پراخه مخ یی خیری ته ښکلا وربښلی وه

نرس وویل:

- تاسو په روغتون کی یی

انجلی وویل :

-د کوم ځای په روغتون کی ؟

نرس وویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library



-د ښار په روغتون کی انجلی
بیرته چت ته وکتل بیا یی سترګی
خپل لاس ته واړولی په سپین
نازک لاس کی یی د سیروم
راغلی ستنه لګیدلی وه په پښو
یی سپینه روجایی پرته وه نرس
روان شو دروازه یی پرانیسته د
انجلی شور تر غوږو شو باوری
شوه چی په روغتون کی پرته ده
څو دقیقی وروسته دروازه
پرانیستل شوه د جګ قد خاوند
کابو اته ویشت کلن ځوان چی
چپنه یی پر تن وه او پراخه مخ
ته یی سپین رنګ ښکلا وربښلی
وه راننوت انجلی وروکتل ډاکټر
یی خواته راغلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



وويل:

-اوس مو طبیعت څنګه دی؟

انجلی وویل :

-ښه یم یواځی لږ درد لرم

ډاکټر وویل:

- زه به نرس ته دوا ورکړم تر څو یی درته راوړی انجلی څه ونه ویل

ډاکټر وویل:

- زه یوه پوښتنه لرم تاسو څوک یاست؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



انجلی وویل:

- افغانه

ډاکټر موسک شو بیا یی وویل:

- زما مطلب دا دی چی ستاسو نوم څه دی؟

انجلی وویل

-ستا زما د نوم سره څه ؟

ډاکټر وویل:

- دا روغتون دی او مونږ باید ستاسو معلومات ثبت کړو

انجلی وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-زه يو پوځی يم او ماته دا اجازه نشته د ځان په اړه چا ته معلومات ورکړم

ډاکټر وويل:

-کله چی تاسو راوړی پوليس راغلل هغه به له تاسو تحقيق وکړی نو که چيرته دا ډيره مهمه وی چی تاسو څوک ونه پيژنی نو د ځان غمه مو وخوری

انجلی وويل:

- زه يی وليدم

ډاکټر وويل :

(c) ketabton.com: The Digital Library



-ما اجازه ورنکړه خو هغوی
ویل چی مونږ بیا راځو که تاسو
خپل کوم خپلوان راوغواړی دا
به ډیره ښه وی

انجلی وویل:

- زه خپلوان څنګه راوغواړم

ډاکټر وویل:

- خو زنګ ووهی

انجلی وویل :

-ما سره یو دستکول و؟

ډاکټر وویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library



-چا ته څه مه وایی خو هغه دستکول ټول اسناد له ما سره دی ما هغه د پولیسو پټ کړل

انجلی وویل:

- تاسو زما په اړه پوهیږی

ډاکټر وویل:

- ستاسو دستکول کی ستاسو ټول معلومات پراته و تاسو څوک یی؟ چا ته کار کوی ؟او ان څو!

انجلی له ډاکټر څخه خبره ونیوله وویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library



-ډاکټر صیب بل څوک خو به مو نه وی خبر کړی ؟

ډاکټر وویل :

-نا

انجلی وویل :

-سمه ده خو پام کوی هغه اسناد باید هیڅوک ونه وینی

ډاکټر وویل:

- سمه ده هغه اسناد زما سره دی زه یی اوس تاسو ته راوړم

انجلی وویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library



-سمه ده ډاکټر ووت او انجلی
فکرونو په سر واخیسته که ډاکټر
دا اسناد چا ته ښکاره کړی یا چا
ورسره لیدلی وی انجلی همدی
فکرونو په سر اخیستی وه له
ځان سره یی دعاوی کولی او له
الله ج یی غوښتل چی نجات
ورکړی لس دقیقی وروسته ډاکټر
راغی یو پلاستیک ورسره و

وویل:

- هغه نور اسناد می درته د ځان
سره پټ ایښی کله چی
رخصتیدی بیا به یی درکړم
کیدای شی عسکر یی درسره پیدا
کړی ستونزه به درته جوړه شی

(c) ketabton.com: The Digital Library



انجلی وویل:

- ډاکټر صیب که هغه اسناد هر چاته ښکاره کړی ځان ته به دی زیان رسولی وی

ډاکټر وویل:

- سمه ده نه یی ښکاره کوم دا اسناد مو واخلی انجلی اسناد واخیستل فوځی کارټ تذکره او نور مهم شیان په کی پراته و ډاکټر جیب ته لاس کړ له جیب څخه یی ای فون موبایل راوویست ورته ونیو

وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ما یی کوډ ندی خلاص کړی

انجلی وخندل وویل:

- ندی شو خلاصولی ځکه اوس داسی وایی

ډاکټر وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-ما ستا اسناد د خوند لپاره ندی
ګتلی مونږ که د یو چا عملیات
ترسره کو باید ځینی اسناد مونږ
ته لاسلیک شی دوهم ما غوښتل
ستاسو کوم خپلوان دلته راشی تر
څو د کومی ستونزی پیښیدو
وخت کی وی اوس تاسو یو
څوک راوغواړی تر څو د
عسکرو کیسه ختمه کړی انجلی
موبایل خلاص کړ د موبایل په
سکرین د طبیعت یو ښکلی
عکس و په سپینو اوبو کی په
آبی غر سپینی واوری په اسمان
کی ځای ځای وریځی او د اوبو
شاوخوا شنه بوټی ښکاریده
انجلی د زنګونو ځای ته ورغله

(c) ketabton.com: The Digital Library



چا ته یې زنګ ووهه د هغې لورې اواز راغلی

-بلی

انجلۍ سلام وکړ

مقابل لورې سلام واخیست بیا یې وویل :

-مریم خیرت خو دی؟

مریم وویل :

-زبیره د ښار روغتون ته راشه

زبیر وویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library



-ولی خیرت خو دی روغتون کی څه کوی؟

مریم وویل :

-تپی شوی یم

د زبیر ورخطا غږ راغی کله چیرته ؟

مریم وویل :

-دا خبری به بیا وروسته کوو خو پولیس د تحقیق لپاره راځی

زبیر وویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library



-د پولیسو خبره اسانه ده مریم ډاکټر ته اشاره وکړه ډاکټر پوهه شوی چی مریم کومه خاصه خبره کوی نو د خونی د باندی ووت

مریم وویل:

- زبیره زما ټول اسناد او وروستی څلور پلانونه ټول ډاکټر ګټلی

زبیره ورخطا شو وویل:

- څنګه یی ګټلی چا ته خو به یی ویلی نه وی؟

مریم وویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library



-نا تر دی دمه خو یی ویلی ندی ډاکټر ښه سړی ښکاری پام دی وی څه ورته ونه وایی که دا نه وی اوس به ټوله نړی خبره وی

زبیر وویل :

-سمه ده زما د درتګه پوری حالاتو ته ګوره

مریم وویل:

- سمه ده بندوم یی خو ډاکټر احمدالله نومیړی کله چی راغلی بیا یی د همدغی نوم له لاری پیدا کړه

زبیر وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-سمه ده موبایل بند شو مریم موبایل ته وګتل اوه شپیته سلنه چارچ یی درلود ډیر و ډاکټر پوهه شو چی خبری یی بس کړی راننوت

مریم وویل:

- ستاسو نوم می وربنودلی کله چی راغلی پاتی اسناد هغی ته وسپاره او دلته یی راوله

ډاکټر وویل :

-سمه ده خو رنګ مو بیا زیړ شوی دی درد خو نلری؟

مریم وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- لږ څه درد خو لرم خو دومره ندی

ډاکټر وویل :

-سمه ده زه درمل رالیږم مریم د ښه په ښه سر وخوځو ډاکټر ووت مریم شاوخوا وکتل په دیوال ځړیدلی ساعت ته یی وکتل ستن یی په لس بجو ولاړه وه د سر لوری ته یی وکتل د اکسیجن ډبه پرته وه بیا یی سترګی پټی کړی څو دقیقی وروسته یی څه په زهن کی وګرځیدل موبایل راواخیست زنګ یی ووهو د هغی لوری نارینه اواز راغلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



-سلام علیکم لوری

مریم وویل:

-وعلیکم السلام پلاره ښنګه یی

پلار یی وویل

-ښه یم لوری ته ښنګه یی؟

مریم وویل :

-ښه یم پلاره مور او ورور می ښنګه دی ؟

پلار یی وویل

-ښه دی شکر دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



مریم وویل :

-پلاره معاش می اخیستی درلیګلی می دی

پلار یی وویل :

-سمه ده لوری تا تری ځان ته پریښودی

مریم وویل:

- هو پریښی می دی

پلار یی وویل:

-لوری هغه د ګل محمد صراف سره به وی نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مریم وویل:

- هو پلاره هغی ته می ورلیګلی ورشه او مور ته زما سلام وایه

پلار یی وویل :

-سمه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدایی پامانې یې واخیسته موبایل بند شو د مریم سترګو ته یې کورنۍ ودریده په سرطان ناروغۍ اخته پلار په پښو ګوډ ورور او غم وهلې مور یې د سترګو یې پر مخ اوښکو لیکه جوړه کړه او د ګریوان په لوری داسې کډوالې شوی چې بیا به خپل کور ته هیڅکله راونه ګرځي څه وخت یې وژړل دروازه پرانیستل شوه مریم زر خپل لستوڼې پر سترګو راکش کړ نرس خونې ته ننوت یوه ګولې او اوبه یې مریم ته ونیولې

وویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library



-ډاکټر صیب راکړی

مریم ګولی تری واخیسته خوله کی یی واچوله د اوبو څو غړپه یی ورپسی وکړل ګولې د خولی څخه ستونې او له هغی ځایه معدی ته مهاجره شوه نرس لاړ زبیر نیم ساعت وروسته د روغتون په واټونو ګرځیدو د یو ځوکیدر یی وپوښتل :

ډاکټر صیب احمدالله چیرته دی ؟

څوکیدر لاس ښی لور ته اوږد کړ وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-اوس هاغی واټ ته ننوت زبیر
لنډه مننه وکړه ځوکیدر څه ونه
ویل زبیر چټک قدمونه واخیستل
او واټ ته ننوت په واټ کی یو
ډاکټر ښکاریده زبیر ورغږ کړ
ډاکټر ودرید زبیر په بیړه ورغلی
وویل :

-ډاکټرصیب ښنه غواړم چی
مزاحمت می وکړ

ډاکټر وویل:

-کومه خبره نشته څه مو ویل ؟

زبیر وویل :

-ډاکټر احمدالله می په کار و

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکټر ووېل:

- زه یم

زبیر ووېل:

- ته یې؟

ډاکټر ووېل:

-هو زه یم ؛ولې ؟

زبیر ووېل :

-زه د مریم پایوازی یم

ډاکټر ووېل:

- تاسو زبیر یې ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



زبیر وویل:

- هو

ډاکټر وویل :

-راځه

ډاکټر زبیر د هغی واټ څخه وویست او بل واټ ته ننوتل د واټ اخر سر ته خونی ته یی بوت دروازه یی خلاصه کړه حیران شو سر ته یی توپانچه نیول شوی وه

زبیر وویل:

-مریم زه یم زبیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



مریم توپانچه بنکته کړه وویل:

- ببنه غواړم زبیر وروړاندی شو روغبړ یی ورسره وکړ

ډاکتر وویل:

- زه به اسناد راوړم

زبیر وویل:

- سمه ده

ډاکتر ووت

(c) ketabton.com: The Digital Library



- زبیر د مریم وپوښتل څنګه ټپی
شوی مریم ټوله کیسه ورته وکړه
زبیر وویل اوف د خدای بنده خو
ماته به دی ویلی و زه به هم
درسره تللی وم او چی بیا لګیدی
ما ته دی ولی خبر نه راکوو؟

مریم وویل :

-وخت راسره نه و کسان راپسی
و

زبیر وویل:

- اوس د الله شکر دی چی
ژوندی یی

مریم وویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library



-د ډاکټر ستونزه حل کړه ورسره وغږیږه

زبیر وویل:

- سمه ده اول خو دا متل د غر د پاسه لار وی خو بیا که په دی ونه شو کړی خولی په سوک سمیږی

مریم وخندل په شونډو یی سره سرخی راغله ډاکټر راننوت په یوه خلطه کی یی اسناد اچولی و ټول یی زبیر ته ونیول

زبیر وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-ډاکټر صيب تاسو په خبره پوهه سړی ښکاری له تاسو هيله کوم خپل ژوند وژغوری

ډاکټر ووېل:

-پوهه نشوم څنګه ؟

زبير ووېل:

- که دا رسوا شی زه رسوا کيږم او زه هغه سړی هم نه يښم چی زما په رسوايی کی صفر اشاريه يو سلنه برخه هم ولری

ډاکټر ووېل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- که ما رسوا کولی اوس به مو
دا اسناد له ماسره نه و پیدا کړی
تاسو زمونږ ژوند د حفاظت لپاره
خپل وخت او ژوند په خطر کی
اچوی خو مونږ ستاسو د حفاظت
لپاره یواځی وخت په خطر کی
اچوو تاسو ژوندی ،روغ
،سلامت پاتی کیدل زمونږ د
ژوند هیله هم ده که تاسو ژوندی
وی مونږ هم ژوندی یو او که
تاسو نه وی مونږ هم نه یو

زبیر وویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library



-مننه ډاکټر صيب خو بيا هم خپل ژوند ته ډير پام کوی ډاکټر پوهه شو چی زبير د يته ګواښ کوی خو ځان يی پری پوهه نه کړو ډاکټر خپل ساعت ته وکتل بيا يی وويل :

-پوليس د تحقيق لپاره راغلی خو پام مو وی چی ما ته ستونزه جوړه نکړی

زبير وويل:

- د پوليسو خبره اسانه ده بيا يی موبايل راواخيست زنګ يی ووهه د روغبړ وروسته يی وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- قومندان صیب تاسو ته می یو کار بند دی

قومندان وویل :

-څه کار ؟

زبیر وویل:

- زمونږ یوه ملګرې تښتي شوي پولیس د تحقیق لپاره راغلی

قومندان وویل :

-هو خبر یم

زبیر وویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library



-مونږ نشو کولای پولیس قانع کړو نو که تاسو دا ستونزه حل کړی

قومندان وویل :

-سمه ده

زبیر لنډه مننه وکړه موبایل قطع شو زبیر د ډاکټر سره یو ځای د خونی ووت او مریم یی یواځی د خپلو خیالونو سره پریښوده زبیر د ډاکټره مننه وکړه بیا یی خپل لمبر ورکړ وویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library



-که هره ستونزه مو درلوده ما
سره په تماس کی شی ډاکټر
شمیره واخیسته او خپله شمیره
یی هم زبیر ته ورکړه زبیر د
پولیس سره مخامخ شو روغبړ
یی وکړ پولیس مخکی له دی چی
پوښتنه وکړی موبایل یی
وشړنګید د اوکی بټن یی ووهله
تر یو څه وخته وغږید بیا یی
موبایل بند کړ قومندان دوسیه
زبیر ته ونیوله ډاکټر حیران
حیران ورګتل زبیر دوسیه ډکه
کړه ډاکټر ته یی ونیوله ډاکټر
امضا کړه زبیر هم امضا کړه
قومندان هم امضا کړه مخه ښه
یی وکړه او لاړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکټر وویل:

- څه دی ولیکل ؟

زبیر وخندل وویل:

- د خپلوانو کور ته تللی وه د وسلوالو له لوری ویشتل شوی ده

ډاکټر وویل :

-په پوځی جامو کی ؟

زبیر وویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library



-نو دی قومندان ته می هسی
زنګ وهلی و دا عسکر ټوله
دوسیه ختموی زبیر له روغتونه
ښار ته ووت څه وخت وروسته
یی څه میوه له ځان سره
راخیستی وه د مریم خونی ته لاړ
څه وخت وروسته مریم رخصت
شوه زبیر تر کوره ورسوله مریم
په کور کی استراحت پیل کړ
زبیر بیرته ښار ته راغلی

********

(c) ketabton.com: The Digital Library



مریم حالات ښه شوی و د کور  دروازه خلاصه شوه پلار یی راننوت په لمر سوځیدلی مخ یی خولې راماتی وی لستوڼی یی په خپل پراخ تندی راکش کړ په ښی لاس کی خلطه یی د درملو ډکه کړی وه مریم روغبړ ورسره وکړ پلار یی کوټی ته لاړ مریم د اوبو ډک ګیلاس ورپسی وروړ پلار یی اوبه په سر واړولی ورور یی په کټ کی اوږد پروت و مور یی د ورور پښو ته ناسته وه مریم وویل :

-پلاره زه سبا بیرته خپلی دندی ته ځم

مور یی وویل:

- لوری د ټپ دی لږ وخت کیږی د بدو به بتره شی

(c) ketabton.com: The Digital Library



مریم وویل :

-رخصت می خلاص شوی دی او زه اوس رکه روغه یم

پلار یی دیوال ته ایښی بالښت ته ملا ولګوله وویل:

- لوری ته زمونږ یواځینې کس یی چی کور ته حلاله روزی راوړی په دنده کی دی پام کوه خبره یی اوږده کړه په سترګو کی یی اوښکی یو او بل خوا تلی خو پلار یی اجازه نه ورکوله چی پر مخ راشی او خپل اولادونه خپه کړی وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ظالمانو په یو وخت راته دوه جنازی
کیښودی بی ګناه بچی می په سخته
راغلم ومی لیده له زړه می وینی
څڅیدی خو ستاسو د موړال لپاره می
خپلی اوښکی پرینښودی چی د ښو
میلمنی می شی جنازه مو وکړه په دی
تمه د جنازګاه په ځای کی ولاړ وم چی
اوس به می سعید بچی راشی زما د
زړه ټوټه به راشی له ما به غاړی
واخلی د زړه غم به ورسره سپک کړم
په خپله بدبختی به وژاړم هغه به ما ته
وګوری زه به هغی ته وګورم زړه به
می ډاډه شی چی سعید خو راپاتی دی
زما ارمان پوره شو سعید راغی ما
ورته ژړل خو هغه خاموشه و ما تری
غاړه واخیسته خو هغه لاسونه ما ته
راونه غځول ما هغه ته وکتل او هغه ما

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته خو هغه سترګی پټی کړی وی اوف
اوف هغه ملامت نه و زما په مخ د غم
داستان و زه یو بدبخته وم او هغه به
ولی یو غمګین او بدبخته پلار لیده خو
ما هغه ته ګتل د هغه په شونډو موسکا
وه په مخ یی وینه راغلی وه نور په
ځان نه پوهیدم خو دومره می اوریدل
چی خلکو ویل دا ډیر بدبخته او
بدنصیبه دی د لور او ځوی جنازه یی
اوس وشوه او اوس یی بل ځوی ورته
تابوت کی راوړ په ما خلکو افسوسونه
کول خو پوهیدم مرغانو زما په
بدنصیبی ژړل حیوانانو زما په
بدنصیبی ژړل اسمان خو زما په غم
دومره په غوصه شوی و چی لوی لوی
اوښکی یی راوغورځولی زما د
انسانانو ګیله نه راتله دوی د زړونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کانې جوړ شوی و دوی خو چې کله بې
ګناه انسان وژني خاندي د بې ګناه
انسان د وژلو له امله ځان په جنت کې
ويني نو زما کليوالو به ولې ژړل زما
زامن د دوی څه کيدل څه دوی خو نه و
وژلی دوی خو چې کله زه په غم لمبيدم
يواځې ګټلې او سيل يې کوو زما بله
لور چې کله راوړه خلک خوشحاله و
ويل يې ښه پرې وشو چې مړه شوه
هسې هم پرې نه شرميده د دوو روپو
لپاره يې پوليسو ته ليږلې وه نه غواړم
بيا څوک پيغور راکړي بس چې بل ځل
راغلې ما ته به ووايې چې څوک دي
خوښيږي ځان به پيغور ته کينوم خو تا
ته به خوشحالي درکړم نور نه غواړم
ته وځوريږي زمونږ غمونه تا هم له
ژونده وباسي مونږ ته خدای روزي

(c) ketabton.com: The Digital Library



راکوی خدایه یا به دی دا جهان پیدا
کړی و او یا به دی جنګ دا چی دواړه
دی پیدا کړی نو بیا به دی انسانان نه
پیدا کول د مریم د پلار د سترګو داسی
اوښکی راروانی وی لکه د اوړی باران
خبره یی وغځوله وویل لوری زما زړه
د شپړو برخو جوړ و ځلور می تری د
خاورو لاندی کړی یو یی مات مات
ټوټه ټوټه دی کله چی ورته ګورم لکه
بدن چی می ځوک په اور کباب کوی
یوه برخه یی پاتی ده او لوری دا تا ته
امانت ده ډیر پام پری کوه د ټولو د
سترګو د اوښکو په نامه ملغلری د مخ
په مسیر د ګریوان په لوری ارغښتلی
مریم چی سترګی یی دژړا له امله سری
شوی وی وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- پلاره ما فکر کوو ته به مونږ ته ډاډ راکوی خو زه اوس پوهه شوم زه تیروتی وم ما چی به تا ته ګتل زړه به می دربا‌ندی ډاډه و خو ته په ما باور نکوی زه به د ټولو هغه کسانو غچ واخلم چا چی ستا د زړه ټوټی له تا بیلی کړی زه به تر هغی واده ونکړم تر څو ته ښه شوی نه یی خلک چی هر څه وایی وایی دی لومړی د زمونږ غریبی ته وګوری زمونږ مجبوریت ته دی وګوری زمونږ غم ته دی وګوری بیا دی قضاوت وکړی

پلار یی وویل:

- دا خلک ړانده دی هیڅ نه وینی

مریم وویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library



-چې دوی ځانونه ړانده کړی دی مونږ
هم ځانونه کاڼه کوو چې چا هر څه ویل
وایی دی بس مونږ نور هیڅ نه اورو
خلک زمونږ په غم خوشحالیږی نو
مونږ نور غم نه پیژنو نه مو غم لیدلی
بس نور به څوک نه ژاړی نور یی د
خبرو توان نه درلود په مخ یی اوښکی
لکه سیلاب داسی روانی یو د بله داسی
مخکی کیدلی لکه د منډو سیالۍ چې یی
وی د خونی ووته

******

(c) ketabton.com: The Digital Library



پنځه انجونې او شل پوځیان په یو امر داسې منظم ودریدل لکه امام چې الله اکبر ووایې او مقتدیان یې تر شا منظم ودریږي جنرال لنډې خو داسې جذباتې خبرې وکړې چې د ټولو زړونه یې داسې په جوش راوستل لکه په سل درجې اور کې چې اوبه په جوش راشي د قومندان په امر ټول الوتکې ته پورته شول الوتکې وزرې تاوو کړې او هوا ته پورته شوه څه وخت وروسته یې پوځیان په غره کې پریښودل او خپله ترې راغله پوځیانو کلې کلابند کړ او عملیات یې پیل کړل دوه ساعته وروسته یې شپږو کسانو سرونو ته توري کښوړې اچولې وي

قومندان وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- دوه کسان پاتې دي يو پوځی ووېل قومندان صیب کورونه به وګورو کورو کی به پټ شوی وی

قومندان ووېل :

-نا دا د افغانیت خلاف کار دی په کورونو کی زنانه هم شته او دا خپلو خلکو ته سپکاوی دی چی مونږ د هغوی په کورونو عملیات کوو او هغوی ګوری په داسی حال کی چی مونږ د هغوی سرتورو سره هم مخامخ کیږو

پوځی ووېل :

(c) ketabton.com: The Digital Library



-قومندان صیب مونږ نه ورنوځو دا انجونی پوځیانې چی مو راوستی دا یادوم

قومندان وویل:

- امممممم هغه خو زما هیری شوی وی مخابره کی یی وویل مریم نوری انجونی هم د ځان سره واخله دوه کسان پاتی دی ټول کورونه ولټوی

مریم دهغی لورې وویل :

-امر واخیستل شو !

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیم ساعت وروسته الوتکه بیرته راغله
اته کسان چی سرونو ته یی کڅوړی
اچول شوی وی او لاسونو کی یی
زولنی پرتی وی د مریم دوی د ډلی
سره یو ځای د ښار زندان ته راوړل
شول مریم دوی بیرته خپل مرکز ته
ستانه شو خو هغوی یی د زندان د
پولیسو میلمانه کړل وختونه تیریدل
مریم دوی به په دوو ورځو کی خامخا
د یو عملیات لپاره د خپلی قرارګاه وتل
د پنجشنبی ماخوستن و مریم او
زرغونه د قرارګاه په دالان کی په
چوکو ناستی او بحث یی تود کړی و
زرغونه د پکتیا وه هغه د مریم سره په
یو ځای کی کار کوو د کار سربیره هغه
او مریم نږدی ملګری هم وی چی په
اضافی وخت کی به یی یو بل سره په

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبرو تیروو

زرغونی وویل :

-جګړن الیاس د وختی راهیسی هلته ولاړ دی لکه چی څه وایی

مریم وروګتل الیاس د یوی ونی ترخنګ ولاړ و او د دوی په لور یی ګتل زرغونی ورغږ کړی :

-جګړن صیب څه خو دی ویل نه

جګړن وویل :

-مریم ته می یوه خبره کوله

مریم وویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library



-ماته !

جګړن وویل :

-هو

مریم وویل :

-دلته راشه ووایه

جګړن وویل :

-پته خبره ده دلته راشی

زرغونې په شونډو موسکا خپره شوه وویل :

-مریم دا څه وخت کیږی ښایسته شوی یی لکه چی

(c) ketabton.com: The Digital Library



مریم پری ورو غوندی د ځپیړی ګوزار وکړ وویل:

- ته هم تل بدګمانونه کوی

مریم د جګړن په لوری روانه شوه تر شاه یی زرغونی خاندل جګړن نه پوهیده چی زرغونه ولی خاندی مریم د جګړن سره اخوا لاړه

مریم وویل :

-الیاسه څه دی ویل

د الیاس زړه درزیده مخ یی سور و خبره یی بنده بنده کوله وویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library



-مریم که چیری زما خبره صحیح وه نو ښه ده که می غلطه وه بیا د اوس ځخه ښنه غواړم تاسو خو قومندان مصطفی پیژنی او د خوی یی ښه خبره یی چی یو بد انسان دی

مریم وویل :

-هو خو ولی ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



الیاس وویل ستاسو د کوټې ترڅنګ
تیریدم د دننه ټکه راتله سوده مې شوه
ورو مې دروازه لږ خلاصه کړه ومې
لیدل چې قومندان مصطفی ستاسو د
کوټې کمرو کې لګیا دی شکمن شوم
پرې چې دا ولې کمرو کې لګیا دی او
ستاسو د اجازې پرته ولې ستاسو کوټې
ته درغلی دی سهار چې کله ما له تا
وپوښتل تا راته وویل چې زما د اجازې
پرته زما کوټې ته ننوت

مریم وویل :

-هو هغه ما ته څه نه وو ویلي ولې
اوس څه شوي دي؟

الیاس وویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library



-کله چی تا ماته دغه خبری وکړی زه هم لاړم ستاسو د کوټی کمری می وکتلی ټولی یی خرابی وی

مریم وویل :

-هغه خو سهار روغی وی په څه خرابی شوی ؟

الیاس وویل :

-اوف !خو مصطفی قومندان خرابی کړی دی کنه

مریم وویل :

-هغه به ولی زما د کوټی کمری خرابوی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



جګړن وویل:

- صبر زه درته کیسه پوره کړم ته به خپله پوهه شی

مریم وویل :

-سمه ده وایه

الیاس وویل :

-بس بیا ما د مصطفی قومندان خارل شروع کړ غرمه یی ستاسو د کوټی سره نږدی دروازه کی چی کوم پیره دار دی خپلی خونی ته وروغوښت زه هم ورغلم دروازه کی می غوږ ونیو

مریم وویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library



-خاا ما چی درته وویل چی دلته څه
کوی؟

تا وویل :

-قومندان صیب غوښتی یم خو په کوټه
کی یی بل څوک دی زه هم درڅخه
لاړم

الیاس وویل :

-هو همغه وخت پوهه نشوم چی څومره
پیسی به وی خو ورته وویل چی دا
پیسی واخله ته پوهیږی ولی یی پیسی
ورکړی ؟

مریم وویل :

-نا

(c) ketabton.com: The Digital Library



الیاس وویل:

- ورته وویل چی بیګاه ته به ستا د کوټې د دروازې ترڅنګ نه کینی

مریم وویل :

-زما د کوټې ؟

الیاس وویل :

-هو

مریم وویل :

-ولی ؟

الیاس وویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library



-او ورته وویل که چا درته وویل چی ته ولی په خپل ځای کی نه وی ناست وبه وایی چی مریم راته ویلی و او که چا درته وویل چی کمری ولی خرابی دی نو ورته وبه وایی چی مریم سهار په کمرو کی ګوتی وهلی بس هغه هم وویل چی سمه ده مصطفی قومندان ورته وویل چی لومړی به درڅخه هیڅوک نه پوښتی خو که یی درڅخه وپوښتل یی بیا به داسی ووایی

مریم وویل :

-قومندان مصطفی ولی داسی کوی دومره لوی پلان هغه ولی نیولی دی؟

الیاس وویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library



-بی ادبی دی معاف وی خو تاسو یوه عزتمنه انجلی یی او قومندان صیب په تاسو عزت نه پیرزو کیږی د الیاس په دی خبره د مریم غومبری سره شول وویل :

-یعنی غواړی په ما جنسی تیری وکړی ؟

الیاس وویل :

-زما په اند او د هغی د کارونو داسی ښکاری

مریم وویل :

-هغه به په خپل ژوند تنګ شوی وی

الیاس وویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library



-یعنی وژنی ؟

مریم وویل :

-هو

الیاس وویل :

-زه یوه مشوره درکوم

مریم وویل :

-ووایه

الیاس وویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library



-تاسو د لومړی څخه د توپانچی لټ
ووهی بس که هغی څنګه هڅه وکړه
تاسو سمدلاسه هوایی ډزی وکړی زه به
ستاسو د کوټی ترڅنګ انتظار کوم بس
سمدلاسه به درننوځم او وبه یی نیسم

مریم وویل :

-ایا هغه به ونه وایی چی دوی دواړو
پلان جوړ کړی دی

الیاس وویل :

-اوووو بیا یی لږ فکر وکړ یو ناڅاپه
یی وویل :

-مریم ته دی خپل موبایل کی کمره
راوړه وه ټوله عکاسی به وشی نو دا یو
لوی ثبوت دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



مریم وویل :

-خبره می دی خوښه شوه دواړو پلان جوړ کړ خو په دی عهد تړون وشو چې هیچا ته به نه وایی چی دا د دې خبری الیاس خبره کړی ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماخوستن ناوخته شو مریم خپلی خونی ته لاړه هلته یی څوکیدر ونه لید خپلی کوټی ته ننوته هر څه یی وګتل د شپی یولس بجی وی د خونی دروازه وټکیده ورغله دروازه یی خلاصه کړه قومندان مصطفی و په لاس کی یی څه پاڼی نیولی وی سر او مخ یی غوړ کړی و کابو دری دیرش کلن و په مخ یی ږیره نه وه مریم وویریده خو ځان یی کلک کړ مرال یی لکه د غر د خپلی ویری په خلاف ودروو قومندان لاړی کټ کی کیناست

مریم وویل :

-قومندان صیب خیرت خو دی

قومندان وویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library



-هو خیرت دی تاسو دا پاڼی وګوری
تاسو پسی خو تعلق نلری

مریم ورغله پاڼی یی واخیستی کله چی
یی په پاڼو سترګی ولګیده ورخطا شوه
پاڼی د دوی د پټی ډلی په اړه وی ځان
او ډله یی په خطر کی ولیده حیرانه
شوه په دی فکر کی ډوبه شوه چی دا
پاڼی دی سره څه کوی

قومندان مصطفی وویل:

- دروازه بنده کړه مریم د ناچاری
دروازه بنده کړه الیاس تیارسۍ هلته
ولاړ و

مریم وویل :

-دا پاڼی تا د کوم ځایه کړی دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



قومندان مصطفی وویل:

- کافی یی زما په خونه کی پرتی دی
که دا پاتی تر محکمی ورسیږی او یا
تر مخالفینو نو بس یواځینی حکم به پر
تا او ډله دی د مرګ وی

مریم وویل:

- چا ته خو به دی ورکړی نه وی ؟

قومندان مصطفی وویل :

-نا خو که تاسو زما خبره ونه منی نو
زه به یی ټولو ته ورکړم

مریم وویل :

-څومره پیسی غواړی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



قومندان مصطفی وویل :

-پیسی به زه تاسو ته درکړم زه پیسی نه غواړم بس له تاسو غواړم نن شپه له ما سره وخت تیر کړی

مریم وویل :

-رزیل انسانه ته پوهیږی چی ته څه وایی ؟

قومندان وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هو خو زه تاسو ته سوال نه کوم په زور دغه کار کوم بس لکه وږی لیوه په مریم یی حمله وکړه الیاس بهر ولاړ و چی ډز شو ورپسی دوهم ډز هم وشو الیاس ورمنډه کړه ورخطا یی په دروازه ګوزار وکړ دروازه خلاصه نشوه د دوهم ګوزار سره د دروازی لټ مات او دروازه د خونی په دیوال ولګیده الیاس ورننوت قومندان په ځمکه پروت و وویل :

-مریم ولی دی وویشتو؟

مریم ورغله کمره یی بنده کړه موبایل او پاڼی یی دستکول کی واچولی بیا یی دوه خالی پاڼی چی هیڅ خط پری نه و شوی په کټ کی کیښودی وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- بس ومی وژه یوه دقیقه کی د مریم کوټه د پوځیانو ډکه شوه هغه پوځیانو چی قومندان د مریم خونه کی مړ ولید د خونی دروازه کی ودریدل تر څو نوری انجونی دننه ورننوځی په خونه کی ځای نه و یو کس غږ کړ جنرال صیب راغی لاره ورکړی جنرال خونی ته ننوت قومندان مصطفی ته یی وکتل نیم لوڅ و دریشی یی مخامخ شلیدلی وه تشې سر او خولی څخه یی وینی راروانی وی مریم ته یی وکتل رنګ یی زیړ و وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- مریم لوری کومه خبره نده ویاړم چی داسی پوځۍ لرم تاسو دا ثابته کړه که هر څوک د یوی افغانۍ انجلۍ عزت ته په سپکه وګوری سزا به یی مرګ وی خو مریم دی خبری څخه زیاته اندیښنه هغه پاڼو ته وه بس هر پوځی چی به د خبری خبریدو ویل به یی دومره بی حیا کس مونږ نه و لیدلی

جنرال وویل:

- خبره به داسی کوو چی دا له قرارګاه وتی و او چا ویشتلی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



مریم د خونی په سختی ووته الیاس هم ورپسی وروان شو مریم په اشاره پوهه کړ چی نه دې ورځې الیاس بیرته راستون شو مریم موبایل راواخیست ویډیو یی په خپل موبایل کی د ایپل کوډ ته ولیږله بیا یی زبیر ته زنګ ووهه او ټوله کیسه یی ورته وکړه د ټولو اسنادو ځایونه یی وروښودل او پوهه یی کړ چی ځینی اسناد د قومندان مصطفی په خونه کی دی زبیر د خپلی ډلی سره یو ځای راغی او څیړنه یی پیل کړه د مریم د خونی څخه یی ټول اسناد واخیستل د قومندان مصطفی خونه یی یو ساعت ولټوله خو اسناد یی پیدا نکړل هیڅوک نه پوهیدل چی زبیر د مصطفی خونه کی څه لټوی په اخر کی یی د میز سر لرې کړ لاندی یی اسناد

(c) ketabton.com: The Digital Library



پراته و راواخیستل یی ځوکیدر او یو
بل کس یی ونیول دومره یی ووهل چی
خپل ټول ملګری یی وښودل زبیر
هغوی ټول ونیول او د ځان سره یی
بوتلل او خپل شخصی زندان کی
واچول خو دلته بیا جالب کار وشو
زرغونی د ځو کسانو په مخ کې ویلی و
چی ماخوستن الیاس د زرغونی سره تر
ډیره پټی خبری کولی بیا د هغوی
خونی ته لاړل او د شپی دغه پیښه
وشوه مریم د دی خبری الیاس خبره
کړی ده او د مصطفی د وژلو پلان
الیاس جوړ کړی و کنه د نورو په پرتله
ولی الیاس هلته اول ورورسید ځینو
ویل چی د ځوکیدر خلاف شاهدی هم
الیاس ورکړی ده ځو ورځی وروسته
زبیر او ریس د هیواده څخه بهر لاړل

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغوی د تګ وروسته د قومندان
مصطفی دوی کورنۍ دوسیه واچوله
هغوی چی په حکومت کی زیات زور
رسیدو نو الیاس او مریم دواړه د
پولیسو لخوا ونیول شو لومړی محکمه
وشوه الیاس او مریم په جرم کی ښکیل
وبلل شو د مریم دوی په کور یو ځل بیا
عذاب راغی د مریم پلار څو ځل مریم
ته وویل چی د قومندان مصطفی دوی
کور ته به په عزر لاړ شی خو مریم نه
منله ویلی جرم هغی کړی او عزر به
مونږ کوو خبره د خرابی په لور روانه
وه د زبیر دوی معلومات نه کیده مریم
هره دقیقه شمارله چی کله به زبیر
راځی یوه ورځ ډاکټر احمدالله د مریم
دوی قرارګاه ته ورغلی د مریم پوښتنه
یی وکړه پوهه شو چی مریم پولیسو

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیولی لومړی محکمی مجرمه ګڼلی او دوهمه محکمه لږ وخت وروسته ده ډاکټر احمدالله په بیړه زبیر ته خبر ورکړ او د پیښی یی خبر کړ زبیر ریس ته وویل چی دا باید زر تر زره لاړ شی خو ریس دی ته وویل چی زه به لاړ شم ته وروسته راځه ریس بیړنی ټکټ واخیست او کابل ته راغی د هوایی ډګر څخه سمدلاسه وزارت ته لاړی وزیر سره یی خبری وکړی ورته وویل چی د دوی جاسوسه د پولیسو له لوری نیول شوی ده ټول ثبوتونه یی ورښکاره کړل

وزیر وویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library



-ریس صیب زه ستاسو د کارونو خبر
یم تاسو وطن ته ژمن خلک یی زما
ژوند مو هم وژغوره د وطن فاسد
خلک مو د ګورونو میلمانه کړه بس زه
سمدلاسه ستاسو د جاسوسی د
خلاصیدو امر ورکوم او هغه کسان چی
دا دوسیه یی پرانیستی او پر مخ یی
وړی د نیول کیدو امر ورکوم

ریس وویل :

-د وزارت څخه یو کس زمونږ د
جاسوسی جنرال ته ګوابن کړی ورته
ویلی دی که په دی موضوع کی ګوتی
ووهی تاسو به هم په جرم کی شریک
وګڼل شی زه له تاسو هیله کوم چی هغه
کس هم ونیسی او یا یی مونږ ستونزه
حل کړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



وزیر وویل :

-د هغی ستونزه تاسو حل کړی ریس سر وخوځو او لاړ دویمه محکمه وشوه کله چی پای راورسیده او پریکړه اعلانیده ټول په دی تمه ناست و چی اوس به الیاس او مریم ته څومره سزا ورکوی قاضی پریکړه اعلان کړه وویل چی مریم او الیاس بیګناه دی مصطفی مجرم دی د مصطفی دوی کورنۍ دې د مریم دوی د کورنۍ عذر وکړی او هغه کسان چی دا دوسیه یی پرانیستی د وزیر صیب په حکم دی ونیول شی

د مصطفی وکیل وویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library



# -چې دا پریکړه غلطه ده مریم هیڅ ثبوت نه لری

# قاضی وویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library



-مونږ ویډیوګانی وګتلی او د عینی شاهدانو خبری مو هم واوریدی مجرمینو ته دی سزا ورکول شی څلور کسان ونیول شو دوو هڅه کوله چی د هیواده وتښتی خو په هوایی ډګر کی د زبیر سره مخامخ شو هغه هم بیرته د ځان سره راوستل د قاضی په دی پریکړه ټول حیران و قاضی خپله هم خو پریکړه د وزارته راغلی وه الیاس او مریم خوشی شو دا چی بیګناه و دواړو ته یی یوه یوه رتبه د وزارته ډالی کړه د ډاکټر خبره هم معلومه شوه کله چی زبیر د روغتون څخه لاړ نو ریس ته یی وویل :

-مریم لګیدلی

ریس وویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library



-خبر شوم اوس څنګه ده ؟

زبیر وویل :

-ښه ده خو یوه ستونزه پیدا شوی

ریس وویل :

-څه ستونزه ؟

زبیر وویل :

-زمونږ استاد ډاکټر ګټلی او په هر څه خبر شوی !

ریس وویل :

-څنګه خبرشوی ،مریم ورته ویلی ؟

زبیر وویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library



-نا مریم بی هوشه وه بس ډاکټر هم ټول اسناد ګتلي

ریس وویل :

-بل چا ته خو یی ویلی ندی؟

زبیر وویل :

-نا ندی ویلی

ریس وویل :

-بس خبره حل کړه

زبیر وویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library



-وطنفاله شخصیت دی که هغه اسناد نه وی ګتلی پولیسو ګتل ځکه پولیس خبر شوی و چی مریم سره اسناد دی خو دي اسناد نه و ورکړی

ریس وویل :

-اوس ته څه غواړی؟

زبیر وویل :

-هغه ډاکټر به د ځان سره ونیسو د روغتون ستونزی به حل کوی او هم به د دی نه ویریږو چی اسناد مو ښکاره شی

ریس وویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library



-ازمايښت پرې وکړه که بريالی شو ډله کې يې واخله خو که ناکام شو ......

زبير وويل :

-اوس ورپسې دوه کسان شوي دي د تيروتنې سره به يې ماغزه وشيندي او ما يې په اړه تحقيقات پيل کړي

ريس وويل:

- سمه ده خبرې ورسره وکړه

زبير د ريس لخوا لاړ ماښام يې ډاکټر ته زنګ ووهه ورته وويل چې سبا مازيګر پارک ته راشه خو بل څوک ځان سره رانولی داسې چلند وکړه لکه زه چې دې پخوانۍ ملګرې يم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکټر وویل :

-جمعه رخصت لرم د جمعی په ورځ به درشم

زبیر وویل :

-نا سبا درسره کار لرم سبا زبیر پارک ته لاړ ډاکټر له مخکی راغلی و زبیر تر یو وخت ورګتلی چی څوک خو به ورسره نه وی خو څوک یی ونه لید بس ورغلی ستړی مشی ورسره وکړه یو بل ته مخامخ کیناستل ډاکټر شربت راوړ ګیلاسونه یی ډک کړه زبیر د مریم په اړه وپوښتل ډاکټر ډاډ ورکړ زبیر ډاکټر څخه وغوښتل چی د دوی سره دنده ترسره کړی ډاکټر ډیر وروسته راضی شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



زبیر ورته وویل :

- ډاکټر صیب ستا دنده یواځی دا ده چی مونږ کوم هدف په روغتون کی درکوو بس ته یی هم چاره کوه بیا یی موبایل راواخیست د عکسونو ځای ته لاړی یو عکس یی راوړو یو ځلور کلن ماشوم چی سره دریشی او تور پتلون یی اغوستی و پارک کی په چمن کی ناست و په ګلالي سپین تندی یی تور ویښتان پراته و بل عکس یی راواړو په هغی کی یوه انجلی ښکاریده ډاکټر په غیږ کی نیولی وه سری شونډی یی موسکی وی مخامخ یی ګتل !

زبیر وویل :

-دا ستاسو ماشومان دی!

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکټر وویل:

- دا عکسونه تا د کوم ځایه کړل ؟

زبیر وویل :

-مونږ ډیر پیاوړی جاسوسان لرو !

بیا یی یو عکس راواړو یو دوه دیرش کلن سړی په کی د یوی چینی تر څنګ ولاړ و اوږدی ځنی او توره ږیره یی درلوده راکټ یی په لاس کی و

زبیر وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-دا ستا ورور دی طالبانو کی قومندان دی جلال نومیړی بل عکس یی راواړو ځلورویشت کلن ځوان په چوک کی ولاړ و پوځی دریشی اغوستی وه په لاس کی روسی ټوپک نیولی و په مخ یی ږیره نه وه موسک و تر شاه یی یو بل پوځی ولاړ و!

زبیر وویل :

-ملی امنیت کی کار کوی حنضله نومیړی بس د دی دواړوخخه معلومات راخله مجرمین فاسدکاران او داسی نورو کسانو په اړه زه درته موبایل درکوم دا موبایل دا ځانګړتیا لری چی ځلورویشته ساعته ثبت کوی خو ثبت ستاسو موبایل کی نه پاتی کیږی سیده زمونږ کمپیوټرو ته راځی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکټر وویل :

-زه معلومات تاسو ته به څنګه دراستوم؟

زبیر وویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library



-ځلور لاری کی یو کتابتون دی د هغی
خواته د شکایتونو صندوق دی بس
همغی ته یی اچوه یا یو پروګرام دی
هغی کی لیکی مونږ ته یی راستوه خو
میسیجونه بیرته ختموه که مونږ درته
کوم خط درولیږه بیا یی سوزوه بس
زمونږ او ستا تر منځ باید هیڅ سند نه
وی موجود زمونږ امر تا ته داسی
درځی زه ستاسو ناروغ یم بس چی
درتلم امر درورم یا بیلا بیلو لارو څخه
ستا ستونزه زمونږ ستونزه ده او زمونږ
ستونزه ستا که دی پیسو ته اړتیا پیدا
شوه د رشوت پر ځای مونږ ته وایه
مونږ یی درکوو که مو د چا سره لانجه
شوه مونږ ته وایه مونږ یی حل کوو
خو که دی زمونږ په اړه چا ته
معلومات ورکړل نو مونږ خبریږو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



هوايي ميدانونو کې هم زمونږ کسان دي په قاچاقبرانو پوځ طالبانو امريکايانو آن تر وزيره پيژنو بيا د دې ګلاليو ماشومانو د يتيمان کيدو مسؤل ته په خپله يې.

بس همدا خبرې وکړې بيا يې د جيبه يو پاکټ راوويست ډاکټر ته يې ونيو ډاکټر شاوخوا وګتل د چا پام نه و خلاص يې کړ د ډالرو دوه سلګونان په کې پراته و

زبير وويل:

- د شربت په بدل کې واخله او ټولې ستونزې له ما سره شريکوه خو زمونږ په اړه معلومات مثال کې هم نه منم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زبیر لاړ ډاکټر هم د دوی کس شو ډیر غوره ثابت شو زیات اسناد یی زبیر ته ورکړه کله چی زبیر له هیواده د باندی تلو نو ډاکټر ته یی ویلی و چی مریم باندی پام کوه ډاکټر وخت نه و پیدا کړی چی د مریم پوښتنه وکړی کله چی وزګار شو او پوښتنه یی وکړه د دغی خبری څخه خبر شو د قومندان مصطفی دوی کورنۍ د کلی سپین ږیری له ځان سره کړل او د مریم دوی کره عذر ته لاړل ******

وختونه تیر شول چهار شنبی ورځ وه مریم او زرغونه سره یو ځای ناست و یو پوځی راغی سلام یی وکړ بیا یی یو پاکټ مریم ته ونیو مریم پاکټ واخیست

پوځی وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ځان ته یې وګوری

زرغونې وویل:

-ستا دی ؟

پوځی وویل:

- نا

روان شو

مریم غږ کړی:

-نو د چا دی ؟

پوځی وویل:

-خپله یې وګورئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



مريم ليک پرانيست او په ويلو يی پيل وکړ ليک داسی و : سلامونه زما ګرانې!

دا چې د زړه لومړنی پيغام په دې دوه کلمو سره پيلووم بخښنه غواړم . کېدای شي په راتلونکي کې د «زماګرانه» او« زما کعبه» وبولم او ياهم تردې له لوړو کلمو څخه کار واخلم او يا هم حتی په خپل نامه دې ياده کړم .

دا سريزه به بس وي چې وپوهيږې دڅه له پاره درته دا ليک ليکم؟!

څلور ساعته دمخه راته هېڅ وې ، نه دې زما په ژوند کې ونډه لرله او نه دې زما په زړه کې ځای ؛ خو احساس کوم چې له دې وروسته ته يې او زه او زه يم او ته .

آه ! زړونه څومره زر او له سريزې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرته بایلل کیږی مګر نه پوهیږم چې
هغه سادګان چېرته دی چې ددوستۍ او
مینې له پاره پرله پسې لیده کاته اړین
بولي ؟ هغوي چې به یې د یوځل کتلو
په ترڅ کې په زړه تښتونې او دیوه چا
په ګوتو کې دهغه په لویدنې باور نه
درلود څه شوی دی ؟
څلور میاشتې دمخه چې دلومړي ځل له
پاره مې بې تابه سترګې ستا په ښکلي
مخ ولګېدې ته یوه ناغوړېدلې غوټۍ
وې ؛ خو آه ! کله دې بښوال لیدلی چې
په څومره مینه او رحم ناسپړلو غوټیو
ته لاس ورِغځوي؟
په لومړني لیدنه کې مې له کتلو پرته
نور جرأت نه لرلو که څه هم په
ځیرځیر مې درته نه شوای کتلی یواځې
د سترګو له کونجونو مې لیـدلې ؛ خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



آیا دا بس نه وه چې تش دلیـــدو اجازه مې لرله ؟!
نه پوهېږم هغه انګړ چې ددوهم ځل له پاره د پکې وینم زما په ژوندون کې به کوم مقام لري؟ مګر مجبوریم چې خپل نمزدک او دمینې معبد یې وګڼم ؛ هلته چې زما دزړه خانقاده ، هلته چې ستا زړه تښتونکو تورو سترګو لومړۍ پلا بې سبکه کړی وم.
هوکې ؛په دې څلورو میاشتو کې د ځومره توپیر کړی دی؟ د پټ طبیعتي ځواک او پیاوړی الهي قدرت دی، چې دا ښاپیرۍ په څومره چټکتیا سره زړونه یرغملوي ؛ ته ګوره چې پرون یې ماشومانه لوبې کولې خو نن په څومره آستادۍ زړونه تښتوي.
څلور ساعته دمخه ته هم نه وې خبره

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې په یوه ګوښه کې د ډېرو مودو ویده
زړه خپل کړې ؟ ریښتیا ووایه چې
پو هېدې دا کاربه ترسره کړې ؟
لا چې هغه انګړته نه وې راغلې زړه
مې راسره و خو خبر نه وم چې په یوه
کاته به یې پردی کړم .
آه ! هغه شېبه ازلي او ابدې شېبه وه
چې همدلته وه .
زماګرانې ! څه کولی شم ؛ په ګوګل
دننه بلوا سریزه نه غواړي ؛ بل شوی
اور ببوزي او پوکي ته اړنه دی ؛
سکروټې دي چې په خپله سوځېږي ؛
خپل په خپله رابرسېره کېدونکی ټپ دی
؛ مګر داسکروټې باید نه وای بلې شوې
؛ خو چاره څه ده  اوس یې راته ټول
ګوګل لولپه کړی؛ نور نو د هېڅ شي
پروا نه لرم .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته پوهېږې ؛ كه څلور ساعته دمخه
راته چا دمينې خبرې كړې واى په كټ
كټ به مې ورپورې خندلي واى خو
اوس په خپله پرې اخته شوم او دې
نړيوال درد په خپلو تاوجنو سكروټو
كې راګېركړم .
څلور ساعته وشول چې له ســـتركو
څخه مې پـــنا شوې يې -خداى وكـــړي
زما او ستا د ناليدو او ليرې والي
وخـــت نور ونه غځـــېږي- او ځان ته
ددې جملو په ليكلو سره تسل وركوم .
خلكو ته د طبيعت له خوا وركړل شوي
ذوقونه او قريحې دهغوي تر ټولو غوره
هڅونكي او دهغوي د پټ ټپ
ټوكرونكي دي .
څه فكر كوې ! زړه بايللى هنرمند به
بې موخې موسيقي غږوي؟ زړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپارلی سندربول به بېهوده سندرې
وايي ؟ او زړورکی شاعربه بې دليله
شعر وايي ؟ نو زه هم ددې کربنو له
ليکلو څخه خوند اخلم .
مګر نه پوهيږم چې دا ليک به په څه
شان تر تا رسوم ؟ ... همدلته به يې
کېږدم چېرته چې دې تورو سترګو ستا
په لوري کاږلی او توركاكل دې
مجذوب کړی وم نو هيله لرم چې
داليک به هم ترخپله ځايه ورسوي .
اې بې ورحه جسمونو چې لاتراوسه
زما په ژوند کې ونډه لرئ تاسې ته
زېری درکوم چې تردې وروسته به مو
ملګری په انسان وژونکو تورو
سترګومين وي . تاسې دې خبروئ چې
تر دې وروسته به زما دسوځنده آهونو
په تاونو کې دهغه مشکينو څڼو وږمې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مومۍ .
زماګرانې !
نه پوهېږم چې ستا کورنۍ به ما په څه
شان ومني ؟ ریښتیا راته ووایه چې
ددې ناڅاپي پېښې اټکل دې کولی شوای
؟ مګر کېدای شي یو دلبر چې پوهیږي
یو زړه یې ښکار کړی دی د خپل مین
د خاموشو سترګو په کتو دهغو په مانا
ونه پوهیږي ؟
که یوځل په هنداره کې ځان ته وګورې
هرومرو به وپوهیږې چې زما سترګو
درته څه ویل .
نه یم خبر چې دالیک به در ورسیږي
او که نه ؟ خو دومره ویلی شم چې دا
جملې دتا له پاره لیکم .
پوهېږم چې تردې وروسته به ډېر
لیکونه ولیکم ، خو دومره هم پوهیږم

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې زما ټول ليکونه به دهغه رنګارنګ
زګېرويو ژباړه وي چې زما له خولې
او زړه څخه به يې واورې.
دمينې په ډګر کې تجربه نه لرم خو
دنړۍ له پېدايښت څخه تر نن پورې مې
د بې شمېره مينانو له زړه بوګنونکو
کيسو څخه دومره زده کړي دي چې
ددې کوچنۍ جملې ليکل او ويل چې «
له تاسره مينه لرم » څومره سخت دی

” ډګروال عباس “

(c) ketabton.com: The Digital Library



مریم خط پاکټ کی کیښود پاکټ یی
دستکول کی کیښود یوه پاڼه یی د
دستکول څخه راواخیسته پری ولیکل
دومره اوږد لیک به دی نه کافی کوو
لوستل یی سختیږی خو دا چی زما
دومره وخت دی ونیو بدله به یی ووینی
ته ما ته هیڅ اهمیت نلری بیا می وخت
ضایع نکړی خط یی په چوکۍ کی
کیښود زرغونی ته یی وویل :

-راځه

دواړه روانې شوي

زرغونی وویل:

-ولی دی ورته داسی ولیکل؟

مریم وویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library



-د چا چی لوفری ته زړه وی د مینی وړاندیز کوی خو که د یو سړی انجلی خوښه شی جرګه ورپسی ورلیږی او واده ورسره کوی دا دویم ډول خلک یی هوښیاران وی.

زرغونی نور څه ونه ویل دواړه د مریم خونی ته لاړی ډګروال چی په انتظار کی ولاړ و کله چی ولیدل مریم یو څه ولیکل او چوکی کی یی کیښودل په منډه ورغلی راواخیستل یی د ویلو وروسته سخت خپه شو مریم هغه خط زبیر ته ښکاره کړ

زبیر وویل :

-اوس پلان دی څه دی ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



مریم وویل :

-بس لږ عقل ورته ورکړه

زبیر وویل :

-سمه ده بی غمه اوسه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



په سبا ډګروال دندی ته نه و راغلی
خبره معلومه شوه چا په لاره کی وهلی
و اوس روغتون کی و بس ډګروال
عباس باندې توبې ویستلی وی زبیر د
خپلو ملګرو سره یو ځای ورته
کیناستلی و ورته ویلی یی و چی بل ځل
زما خور ته په بده ونه ګوری په دی
خبره ټوله قرارګاه خبره وه چی زبیر
مریم ته خور ویلی دی زبیر به زیاتره
وخت قرارګاه ته تله هغه دومره خوږه
ژبه درلوده چی د قرارګاه ټول کسان
ورسره ملګری و ځانته د قرارګاه نه که
به د طالبانو سیمی ته لاړ یو قومندان به
ورته روغ پسه حلالو هغه د بیحده ډیرو
کسانو سره پیژندل د ترکانه تر وزیره
زبیر د پیسو کمی نه درلود ځلور
ورونو یی فرانسه کی مزدوری کوله

(c) ketabton.com: The Digital Library



بس بی دریغه پیسی به ورته راتلی د
زبیر ټوله کورنۍ په فرانسه کی وه ټولو
به دیته پیسی رالیږلی د فرانسی پیسو
سربیره دوی ننګرهار کی هم ډیری
ځمکی درلودی د کال چی به تری هر
څومره پیسی بچت شوی ورونو یی د ته
ښنلی وی هغه به کال کی یو ځل
فرانسی ته تلو دي واده نه و کړی
څلورویشت کاله عمر یی درلود د مریم
سره یی په پوځی تمریناتو کی ولیدل
خبره یی ریس ته وکړه ریس هم مریم د
ځان سره ونیوله د دی دواړو تمرینات
بیل شول ځکه دوی د نورو په پرتله
ډیر قوی و وخت تیر شو مریم ته بیا
عباس لیک ونه لیږه کله چی به یی
مریم ولیده سر به یی ښکته کړ او تیر
به شو د دوشنبی ورځ وه دوی په

(c) ketabton.com: The Digital Library



عملیاتو لاړل دا عملیات د صبور په
نامه یو قومندان باندی و قومندان په
ډیری سختی ونیول شو څو ساعته
جنګ وشو دا چی قومندان صبور دوی
بی خبره وو او شمیر یی د مریم دوی
په پرتله کم و ونیول شو صبور ښکلی
ځوان و پنځه ویشت کاله عمر یی
درلود په مخ یی کوچنی ږیره وه په
سپین مخ یی تورو غټو سترګو او
برابری پوزی د مخ ښکلا زیاته کړی
وه هغه ویښتان کوچنی وه په سپینو
جامو یی تور واسکټ اغوستی و د
نیولو وخت کې په مریم سترګی ولګیدی
مریم ښکلی ځیره درلوده د هر چا پام
به ورته و شونډو یی خدایی سرخی
درلوده د صبور زړه ته ننوته قومندان
صبور د ځان سره اعوذبالله ویله خو نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کیده د سترګو کونجونو څخه به یې
مریم ته ورکتل صبور قرارګاه ته
راوړل شو خو هغې د ډیرو وهلو
وروسته هم حال نه وایی مریم زبیر ته
وویل زبیر د جنرال سره خبری وکړی
قومندان صبور یې تری بوتلو هلته یې
ووهه خو هغې هیڅ ونه ویل یوه ورځ
مریم زیاته په غوصه شوه خپله ورغله
زبیر هم ورسره و په غوصه یې وویل:

- هسی زمونږ وخت مه ضایع کوه دا
خبری درڅخه وباسی که اړتیا شوه زړه
د څیروم او دا خبری تری راوباسم خو
ښه دا ده چی حال ووایی

(c) ketabton.com: The Digital Library



صبور څه ونه ویل مریم غوصه نوره هم زیاته شوه سوک یی جګ کړ د صبور خولی ته یی برابر کړ د صبور خولی څخه وینو داره وکړه سر یی کوږ کړ

زبیر وویل :

-مریم حوصله بی هوشه دی کړ

مریم وویل :

-پروا نه کوی بیرته په هوش راځی

یو کس پری اوبه وشیندلی سترګی وغړولی مریم ورته ولاړه وه قومندان صبور چی د مریم څخه لږ وهل وخوړل وویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library



-حال وایم خو په یو شرط !

مریم وویل :

-ته زمونږ اسیر یی او شرطونه هم مونږ ته ږدی ؟

صبور وویل :

-زما خبری تاسو ته ډیری مهمی دی

زبیر وویل :

-سمه ده څه شرط ؟

صبور وویل :

-د حال ویلو وروسته به ما ازادوی!

مریم په کرس کرس وخندل

(c) ketabton.com: The Digital Library



زبیر وویل :

-که معلوماتو دی مونږ ته ګټه رسوله او د ازادیدو وروسته ته مونږ ته ستونزه نه جوړیدی سمه ده ازادوم دی

مریم وویل :

-ته څه وایی زبیره دا مو د جنرال څخه راوستی ټول خبر دی چی دا تاسره دی

زبیر وویل :

-کومه ستونزه نشته

د صبور څخه یی د مهمو خبرو په اړه معلومات واخیستل خو یوه خبره یی پریښوده

(c) ketabton.com: The Digital Library



وویل :

-دا ډیر مهم راز دی کله چی مو خوشی کړم درته وایم یی

زبیر جنرال ته وویل :

-چی کس پسی مو راشی جنرال بیرته صبور بوتلو څو ورځی وروسته د زبیر مریم او د زبیر د ملګرو په مرسته د زندان څخه وتښتید جالبه یی دا وه چی هیڅوک په دی دوسیه کی ښکیل نه شو زبیر دوی هغه بل ځای ته بوتلو بیا یی وویل :

-هغه نور معلومات

صبور وویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library



-ستاسو هغه بله ډله مخ پټې جاسوسان !

زبير وويل :

-ته هغه څنګه پېژنې؟

صبور وويل :

-يو ځل يې زه نيولى وم دا کومې
سزاګانې چې تاسو ماته راکړې دا
هغوى هم راکړى بس زه هم پوهه شوم
چې هغه ستاسو کسان دي

زبير وويل :

-اوس خبره وکړه

صبور وويل :

(c) ketabton.com: The Digital Library



-هغه جګړن چې تاسو یې د خپلو موخو لپاره کاروی وژنی

زبیر وویل :

-څوک یې وژنی؟

صبور وویل :

-دپاسه امر دی ځانمرګی برید پری کوی نن د اګست څومه نیټه ده

زبیر وویل :

-اتلسمه !

صبور وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- نن یی وژنی لس بچی زبیر ساعت ته وګتل لس بجو ته لس دقیقی پاتی وی

زبیر وویل :

-څنګه یی وژنی ؟

صبور وویل :

-ځانمرګی برید پری کوی هر څه یی تیار کړی و ځانمرګی یی روزلی و یواځی د ازادی ورځ ته په تمه و

زبیر مریم ته زنګ ووهه ورته وویل چی جګړن ته خبر ورکړه مریم جګړن ته زنګ ووهه د جګړن موبایل وشرنګید د اوکی کیدو وروسته د هغه لوری ښځینه نری غږ راغلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



-جګړنه ښه یی؟

جګړن وویل:

- ومی نه پیژندی

انجلۍ وویل :

-مریم یم !

جګړن وویل:

- مریم کومه مریم ؟

انجلی وویل :

-یو وخت ما او تا په یو کورس کی زده کړی کولی مریم وویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library



-جګړنه تاسو وژنی ځانمرګی برید
درباندی کوی پام کوی

ګړز شو مریم ناری کړی جګړنه
جګړنه د هغی لوری اواز نه راتلو!

مریم زبیر ته خبر ورکړ زبیر ریس ته
وویل:

-چی سیمی ته کسان واستوی ریس
نږدی پوستو ته خبر ورکړ چی ورشی
نیم ساعت وروسته خبره معلومه شوه
جګړن په شمول شپږ پوځیان وژل
شوی و او نهه پوځیان ټپیان و زبیر
صبور پریښود

صبور وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- دی پسی ستاسو لمبر دی په ځان پام کوی نور لاړ خو زړه یی د مریم سره پاتی شو یوه میاشت وروسته د مریم دوی کور ته څلور سپین ږیری دوه ځوانان او څلور تورسری راغلل چای یی وڅکه دمریم پلار سره یی خبره وکړه بیا لاړل مابنام زبیر او مریم ولاړ و چی دمریم موبایل ته زنګ راغی مریم وکی کړ وویل :

-پلاره بنه یی؟

د پوښتنو وروسته پلار یی وویل:

- لوری نن درپسی جرګه راغلی وه !

مریم وویل :

-څوک و؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلار یی وویل :

-ما نه پیژنده خو ویل یی چی د قومندان صبور لپاره ستا لور مریم غواړو ویل یی چی مریم صبور لیدلی او پیژنی د صبور مریم خوښه شوی ده بس واده یی غوره لاره یاده کړه هغوی ویل چی هغه دی خپله دنده ترسره کوی مونږ یی د دندی سره هیڅ ستونزه نه لرو معاش دی هم پلار ته ورکوی بس ښه ولور هم پری ورکوو چی هر شرط تاسو ولری مونږ یی منو خو تاسو دا خپلوی ومنی .

مریم وویل :

-زمونږ کور یی له کومه پیدا کړ ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلار یی وویل:

- نه پوهیږم خو ما د قومندان صبور په اړه معلومات کړی ډیر ښه سړی دی د طب څخه فارغ دی خو جګړه یی شروع کړی لوری ملامت ندی پلار یی د امریکاینو لخوا په خپل کور کی ویشتل شوی و مور یی هم وفات شوی دوه ورونه لری خلک وایی چی د ښځو سره ډیر ښه چلند کوی تر اوسه یی میږی ته هم بد ندی رسولی مریم هلک می ولید خبری می ورسره وکړی ښه جایداد لری ښایسته هم دی ځینو راته وویل چی خپلوی که ورسره وکړی ښه به درته تمامه شی .

مریم وویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library



-پلاره که زه واده وکړم تاسو به څنګه شی؟

مریم پلار وویل :

-الله تعالی چی پیدا کړی یو رزق هم هغه راکوی او د ولړی هدیری نشته دی

زبیر د مریم څخه موبایل واخیست سلام یی وکړ !

دمریم پلار وویل :

-وعلیکم السلام زبیره بچو څنګه یی ؟

زبیر وویل :

-ښه یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا یی وویل:

- کاکا زه به د صبور په اړه پوښتنه وکړم او خبری به هم ورسره وکړم بس ستاسو د کور خرچه په ما شوه که دا خپلوی تاسو منی نو زه به د صبور په اړه معلومات وکړم

د مریم پلار وویل :

-صبور خو زما زیات خوښ شو او خلکو یی هم زیات صفتونه وکړل چی مریم خبره ومنی نو زما خوښه ده

زبیر وویل :

-بس مریم ښخه تاسو بی غمه شی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مریم پلار زبیر ته دعاګانی وکړی موبایل یی بند کړ

زبیر مریم ته وویل:

- مریم ځنګه خوښه دی ده او که نا ؟

مریم وویل :

-دا یو کار می ورته خوښ شو

زبیر وویل :

-د چا یو کار؟

مریم وویل :

-د صبور!

زبیر وویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library



-کوم کار؟

مریم وویل :

-د ډګروال عباس څخه ښه دی دمینی وړاندیزونه یی ونه کړل

زبیر وخندل وویل :

-یعنی هوښیار دی ؟

مریم وویل :

-هو !

په سبا ورځ زبیر د صبور سره وګتل پوهه شو چی بد نه دی

زبیر وویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library



-ته یو طالب یی او هغه یوه پوځې ده

صبور وویل :

-زما عسکری ډیره خوښیده خو امریکایانو می پلار ووژه ما هم د غچ اخیستو لپاره طالبانو سره کومک شروع کړ

زبیر وویل :

-خا د واده وروسته به څه کوی؟

صبور وویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library



-زه دوه ورونه او څلور خویندی لرم
خویندی می واده شوی او ورونو می
چی ودونه وکړل بیل شول اوس له ما
لرې اوسیږی د واده وروسته تسلیمی
ورکوم یا به د مریم دوی کور ته ورشم
او یا به هغوی زمونږ ځای ته راشی
خو دا ځای ښه دی ځمکی باغونه لرم د
دوی به ساعت په کی تیر وی که مریم
کور کی کیناسته او که پوځ کی دنده
ترسره کوله پروا نکوی ځکه پوځ کی د
انجونو اړتیا ډیره ده زه هم اسناد لرم
ډیر ملګری می صحت بخش کی کار
کوی چیرته به وظیفه پیدا کړم زبیر هم
راضی شو مریم ته یی د صبور ټولی
خبری وکړی مریم هم ومنله کوژده
وشوه ښه په ډنګ ډونګ باندی عسکر
او طالب یوځی کیناست د یو بل حال

(c) ketabton.com: The Digital Library



یی واخیست د عسکرو طالبانو تر منځ
تاوده بحثونه وشول ښه ډوډی ورکړل
شوه طالبانو به ویل جهاد فرض دی
کفار مو ملک ته راغلی دی کلی
کورونه یی راته بمبار کړل بی ګناه
خلک وژنی زمونږ په هیواد یی تیرې
کړی دی خو عسکرو به خپل مجبوریت
یادوو ویل به یی کور کی ډوډی نشته
کارونه نه پیدا کیږی که په فوځ کی
دنده ترسره نه کړی کورنۍ به یی څه
شی خوری دوی هم د کافرو ډیر نفرت
لری ارمان لری د کافر سره جنګ
وکړی بس تل مو د شا پری ګوزار
کړی دی خو مشران مو ښه خلک ندی
یو طالب خو په دی اند و که چیری په
حکومت کی فساد نه وی اوس به
طالبان ټول ختم شوی وی خو ځینو

(c) ketabton.com: The Digital Library



عسکرو بیا ویل چی ستاسو تر شا د
پاکستان لاس دی غواړی دا هیواد وران
کړی طالبانو د دی خبری منلو سره دا
شرط و چی مونږ نه یو ملامت ټول مو
د مشرانو کارونه دی ورونه یی د یو بل
په خلاف ودرولی تر شا یی د نورو
هیوادونو لاسونه دی په دغه ورځ ډیر
عسکر او طالبان سره ملګری شول یو
بل ته یی د موبایل شمیری ورکړی بس
کله چی به وزګار شو یو بل ته به یی
زنګونه وهل ساعت به یی تیر و .

(c) ketabton.com: The Digital Library



مریم ډیره خوشحاله وه صبور تسلیمی
ورکړه په ولایتی روغتون کی ډاکټر
شو هغه چی د طالبانو سره وخت تیر
کړی و د ډیرو ټپیانو درملنه یی کړی
وه په جراحی برخه کې روغتون کی
نوم مشهور شو د روغتون تر ټولو
تکړه ډاکټر و کله چی به مریم دوی
کره ورتلو ډیره میوه به یی ویوړه ښه
خوشحاله و د صبور خویندی به هم
مریم دوی کره ورتلی مریم ته به یی
زنګ ووهه تر ناوخته به یی ورسره
خبری کولی د صبور خویندو صبور ته
وویل: چی مریم ته زنګ ووهه خو
صبور ویل :چی اوس ورته زنګ وهم
بیا واده خوند نکوی کله چی دی واده
وی ښځه دی ووینی هغه بیله خوشحالی
خبری درسره کوی بیله خوشحالې بس

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا واده یوائی خوشحالی وی خو چی د
اول ښځه ورسره خبری کوی بیا د واده
خوند نه وی څه وخت وروسته د مریم
دوی دوه ملګری ووژل شو ډاکټر
احمدالله هم هدف شو خو بچ شو بس
هغه هم د هیواده ووتو په زبیر څو
چاپی ووهل شوی خو که به قومندان
پری چاپه ووهله او د دی وژلو اراده به
یی وکړه نو معاون به خبر ورکړو او
که به معاون اراده وکړه قومندان به
خبر ورکړ د مریم دوی زیات ملګری
ووژل شو صبور دوی پریکون پسی
راغلل او د واده نیټه یی وټاکله دوه
جمعی وروسته واده دی صبور د کور
کالی او د ضرورت سامان ټول
واخیستل خویندو او خورزو ته یی
ښکلی ښکلی جامی وکړی واده ته یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



جمعه پاتی وه د جمعي ورځ وه بلی
جمعي ته واده و مریم په ښار کی د
ضرورت وړ توکی واخیستل کور ته
روانیده چی دوه کسان راغلل مریم سر
ته یی وسله ونیوله مریم خپلی وسلی ته
لاس کوو چی ډز شو د مریم په تندی
سری وینی روانی شوی په لاس کی
نیولی کالی تری ولویدل دوهم ډز سره
مریم پر ځمکه راولویده کسانو منډه کړه
چا یی د نیولو هڅه ونکړه ښه په ارامه
ووتل مریم د صبور ښکلی مخ سترګو
ته ودرید د هغی هغه ارمانونه چی د
صبور خویندو ورته په موبایل ویلی و
ذهن ته راغلل خپل بی وسه پلار یی
سترګو ته ودرید د مور د ژوند داستان
یی لکه فلم تر سترګو تیر شو بی وزله
ورور یی سترګو ته ودرید ارمانونه یی

(c) ketabton.com: The Digital Library



زهن ته راغلل په بهو یی د سترګو
راغلی اوښکی میلمنی شوی بیا تری
لاړی او د وینو د سیلاب سره یو ځای
روانی شوی چا غږ کړ :

روغتون ته یی یوسی

بل کس وویل:

ژوندی ده !

موټر کې واچوله غږ شو ټیپ یی راوړ
ډاکټر رامنډه کړه تذکری ته ودرید
وروګټل د مریم سترګی پټی وی

یو کس وویل:

-ښار کی سوده اخیسته دوه کسان
راغلل وویشته

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل وویل :

-د روغتون دروازه کی د شهادت کلمه وویله په ډاکټر سر وګرځید په ځمکه راولوید بل ډاکټر رامنډه کړه ډاکټر یی وخوځو وویل:

- ډاکټر صیب صبور په تاسو څه وشول .

(c) ketabton.com: The Digital Library



زبیر خبر شوی و چی مریم چا ویشتلی په موټر کی په بیړه د روغتون په لوری روان و د بم د چاودل کیدو غږ په ښار کی انګازی وکړی څو ساعته وروسته دوه تازه قبرونه په یو ځای کی او یو قبر بل ځای کی و یواځینی قبر ته څو کسان ناست و کسان د ځیرو داسی ښکاریدل لکه تازه چی د بل ملک څخه راغلی وی خو دوه قبرنو ته څو انجونو ژړل څو سړی لرې ولاړ و انجونو چغی وهلی او داسی ویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library



-مریم وریندارۍ ته مړه نشوې ستا له
امله ستا د مور زړه وچاوده هغې نه
غوښتل ته یواځې قبر ته لاړه شې اوس
به مونږ صبور لالا ته په څه قناعت
ورکوو اوس به هغه مونږ په څه
راضې کوو اوس به مونږ د هغې
غمجنې څیرې ته څنګه ګورو مونږ به
د هغې ژړا څنګه اورو هغه خو زمونږ
یواځینې ورور و په هغه به مونږ د
پلار مینه ماتوله کله چې به مونږ ورته
وویل ته د بابا په څیر یې موسک به
شو بیا به یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- زما ګرانو خویندو زه د بابا په خیر یم
او مریم د مور په خیر ده ښکلا کی
اخلاقو کی غوصه کی بس هر څه یی د
مورجانی په خیر دی اوس تاسو ووایی
تاسو خو مور او پلار پیدا کړه ټولو به
خندل هغه به ټوکی کولی تل به یی
خندل هغه به ستا صفت کوو او مونږ به
خاندل هر څه لاړل اوس به صبور نه
خاندی کله چی ستا صفت کوی مونږ به
وریسی خاندو نه بلکی د ځان سره به
پټی پټی ژاړو کاش دا واده خو شوی
وی د صبور ارمان پوره شوی وی
زمونږ ارمان پوره شوی وی کله چی
به د صبور کور ته لاړو پخلی به مو په
خپله کوو صبور به د انغری خواته
راغی په خندا به شو وبه یی ویل
خویندو کله چی ما واده وکړ بیا به

(c) ketabton.com: The Digital Library



مونږ کیسی کوو تیاره ډوډی به درته
دسترخوان ته راځی خوری به یی مریم
به ستاسو ډیر قدر کوی خو ته لاړی
زمونږ هغه تمه ختمه شوه چی وریندار
به مو قدر وکړی زمونږ لورګانی خو
په تمه وی چی د ماما واده دی مونږ به
داسی سیل کوو داسی لوبی به کوو په
دی به یی لانجه وه چی کله ناوی
راننوځی کومه سندره به ورته چلانوو
یوی به یوه یادوله او بلی به بله خو کله
چی ته ولیدی لانجه یی نه وه ټولو په
اتفاق د سترګو اوښکی تویولی اوس به
مونږ هغه جامی په څه کی اغوندو
کومی چی صبور خپل او ستا واده لپاره
مونږ ته اخیستی وی مونږ به هغی
خونی ته څنګه ګورو چی مونږ ستا
لپاره سینګار کړی وه مونږ به یی

(c) ketabton.com: The Digital Library



وزغموو خو صبور به ورته ځنګه ګوری د پنډ لپاره اخیستی جوړه به مونږ ځنګه ګورو د ښځو د سترګو اوښکی په تیزی سره تلی .
صبور سترګی سری وی د زړه یی وینی څڅیدی د مریم ځیره یی د مخ څخه نه لري کیده د هغی هغه سوک چی دا یی په مخ پری وهلی و نه هیریده مشر ورور یی خواته راغلی اوږد اسویلی یی وویست سترګی سری وی نصواری پکول یی په سر ایښی و وویل: -صبوره خپه کیږه مه دا ژوند دی ډیر څه په کی راځی الله تعالی چی انسان پیدا کړی بیرته یی مړ کوی هم ځکه الله تعالی قران کریم کی فرمایی هر نفس د مرګ څکوونکی دی هیڅوک ژوندی نه پاتی

(c) ketabton.com: The Digital Library



کیږی که څوک ژوندی پاتی کیدی بیا
به مو په مړو ژړل په مریم زه ډیر خپه
یم له زړه می وینی څاڅی چا ته ګوته
نیسی چا ته وایی چی مدایی می ته یی
چا ته وایی چی مریم تا ووژله شکر
وباسه شهیده شوه دا مرګ الله تعالی
خپلو خاصو بنده ګانو ته ورکوی هغه
یوه زړوره انجلی وه تل په میړانه
جنګیدله خو دلته انقلاب دی اوس
ژوندی لږ ساعت وروسته مړ بابا راپه
یاد کړه زه یی له خوا پاڅیدم مازیګر
وخت و راته وویل :

-بچو وختی ځان کور ته ورسوه انقلاب
دی !

ورته ومی ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- بابا له مونږ سره د چا څه؟

بابا وویل :

-بچو انقلاب کی ځوک سلامت او ملامت نه ګوری د هر سړی مرګ روا دی استغفار وایه

ورته ومی ویل:

- پلاره صحیح ده !

بابا وویل :

-بچو مونږ مړه کیږو خو دومره مه ژاړی شهید سړی باندی د الله رحم وی ځکه شهادت ورکوی که شهید توب غوره مقام نه وی الله تعالی به هر چا ته ورکولی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترى لاړم د شپى زنګ راغلى ويل يى پلار دى شهيد شو وروره اوس زه تا ته وايم صبر وکړه الله تعالى به يى بدله درکړى او په اوس وخت کى ځان ته تسليت ورکول ستا کار دى ورشه خسر ته دى ډاډ ورکړه د هغى غم ډير لوى دى د لور سربيره يى ښځه هم مړه شوه.

صبور سلګو نيولى و وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



لالا زه ځنګه صبر وکړم مریم عسکر
او زه یې دښمن وم د مینې په پیوند سره
وتړل شو جګړه مو بس کړه د جګړې
مې نفرت راغلی فکر مې کوو هر څه
ختم شو غمونه ختم شو، ژړاګانې ختمې
شوې، فریادونه ختم شو، اهونه ختم شو
خو زه د دې خبرې ناخبر وم تر هغې
چې چیرې جګړه وې دا هیڅه نه
ختمیږي غمونه او جګړه یو ځای وې د
جګړې سره تل غم ملګرې وې اوس به
لالا زه ځنګه خپلې خونې ته ګورم زه
به خپل کور کې ځنګه ویده کیږم زه
چې به کله ویده کیدم د هغې څیره به
مې مخې ته ودریده خندل به یې خو
اوس چې ویده کیږم د هغې خاموشه
څیره به وینم په وینو لړلې مخ لالا دا
غم ډیر لوی دی زه ځنګه ځانته قناعت

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکړم.

ورور یې وویل :

-صبوره چې سر وی خولې ډیرې دی !

صبور وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هو لالا چی سر وي خولۍ ډيری دی خو سر يی مړ کړمريم يی مړه کړه هغه سر و زه خولۍ وم لالا دا خلک چی د خلکو ارمانونه وژنی، د خلکو زړونه وژنی، د خلکو هيلی او اميدونه وژنی، د يوی کورنۍ سيوری وژنی، يوه کورنۍ د غم ټغر ته کينوی، دوی به نه ويريږی دوی چی دومره ظلمونه کوی په ښځو لاس پورته کوی ښځی زوروی دوی به نه ويريږی له دوی به د قيامت ورځ هيره شوی وی .

د صبور له سترګو اوښکی روانې وی او دا کلمه به يی تکراروله :

(c) ketabton.com: The Digital Library



-مریم ته ولی مړه شوی؟ زه دی ولی
یواځی پریښودم؟ زما ارمانونه دی ولی
د خاورو لاندی کړه؟ اوس به زه
روغتون کی څه وکړم؟ اوس به زه
کور کی څه وکړم؟ کاش! ته ژوندی
وی زه مړ شوی وی ،کاش! زه مړ
شوی وی کاش!!!......
یو ځل بیا طالبان او پوځیان سره
راغونډ شوی و خو د تیر په پرتله
خاموشه و خندا نه وه، خوشحالۍ نه وه،
لانجه نه وه، موسکا نه وه، شور نه و،
ټول غلی ناست و لکه غړن بوټی داسی
یی څیری نیولی وی دوه عسکرو په
خپلو کې خبری کولی له ځان سره
موسک شو یو سپین ږیری چی لونګی
یی د سر څخه تړلی وه او سپینه ږیره
یی درلوده لمر سوزلی تندی تریو کړ په

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوصه یی وویل:

-مړي شوي او تاسو خاندی لږ وشرمیږی!

عسکرو بیا ونه خاندل هر چا به د خپل غم کیسی کولی ملا امام د خیر څو خبری وکړی ټول ورته غوږ و بیا کیناست مړاوی څیره او غمجن مخ یو کس لري ځانته ناست و او د ځان سره یی داسی ویل :

سوله به وران وطن کې راشی

د خاورو لاندی ځوانان بیرته نه راځینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ښار کی چاودنه وشوه څو دقیقی
وروسته د امبولانس غږونه په ښار کی
اوریدل کیدل په مخابره کی دا غږونه
اوریدل کیدل د مخ پټی جاسوسانو ریس
په یوه بمی چاودنه کی وژل شوی
دزبیر دا خبره رښتیا شوه چی مریم ته
به یی ویل:

- مریم ته غم مکوه مونږ به د مرګ
وروسته هم سره یوځای یو.

څو میاشتی ووتی د ښار منځ کی دوه
ځوانان روان و ښکلی ځیری درلودی د
یو سره کتاب په لاس کی او بل کتابچه
لاس کې نیولی وه د کتابچی والا ځوان
یو سوالګر ته ګوته ونیوله او بل ځوان
ته یی وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-دی جګړی هم څه څه حالات په خلکو راوستل دا سوالګر وینی دوه لورګانی په فوځ کی ووژل شوی یوه لور یی وسلوالو په کور کی وویشته یو ځوی په پوځ کی ووژل شو او دوه یی د وسلوالو د لوری ووژل شو اوس لګیا دی سوال ټولوی !

بل ځوان وویل :

-لور یی مریم نومیده کله چی وویشته مونږ روغتون ته یوړه په لاره کی دوه خبری وکړی یوه یی د شهادت کلمه وویله او بل یی وویل ظالمانو زه نه زما کورنۍ هم ووژله خدای ته به یی ځواب وایی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوانانو سرونه د افسوس په بنه وخوځول او روان شو.

پای

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**